سید عبیدالله نادر ۲۰۲۲/۱۱/۱۰

# سر زوری

هره خـــــواته بی دردي ده
د بــــــیدردو ، رهبري ده

سراســـر ددي ، ملـــت کي
جهـا لت ،او خود ســري ده

د هـوی هوس یرغـل دی
د نفســـــونو، سر کشـي ده

مصلحت دلت محـــکوم دی
د حــــل لاره سر زوری ده

مرام ،لیری پاتـــــي شوی
د قدرت پســي ،خواري ده

د آباد نــــوم يي، بر باد کړ
څکـــه هر خوا ،بر بادي ده

غوبل ګډ ، په هري خوا دی
څنــــــاورو ، پای کو بی ده

دغرور شراب، ځبنل شوي
ددیـــوانــو ،خـــرمستــي ده

اراده ده ، د شـــهـــواتـــــــو
د هستـــي سره ،مستـــي ده

مریـــتوب نه، شرم نشـــته
افتــخـــــــار، په غلامي ده

دي شرار کي، د نفســــــونو
سوځــــیدلي مو ، هستـــي ده

---

۱۳۷۳ کال د اسلامی حکومت
د مجاهدینو د خپل مینځي جنګونو پر مهال یوه خاطره ، په داسی حال کي چي د پرله پسي هجرتونه په لړ کي ، د خپل دوه ماشومانو سره چي دری کلن هلک او یوه کلني لورکي سره مونږ په ډیرو بدو شرایطو کي څانونه تر جلال آباده پوری ورسول ،یو څو بنده د دي شعر او دا تصور می په موټر کي په ذهن کي وګرځیده،